ما زيګرى دى خبرې مه کړه
ته به د ناز خيرې کوې رښتيا به شينه

همدا ټپه وه چې مېين يې کړم.
هغه هم په داسې چا چې ليدلى مې هم نه وه له دې وړاندې مې ورسره هيڅ اړيکې نه درلودې.
دغې ټپې د شعر په ښاپيرۍ مېين کړم.
له هماغه ځايه مې له دغه ښاپيرۍ سره د ملګرتيا تار وغځوه.
کلونه کلونه مې خپلې محبوبې ته د زړه وينې ورکړې د هغه انځور مې جوړ کړ، خو هغسې نه، کومسې چې مې زړه غوښتل ځکه ما بيللې وه،ما ماته خوړلې وه خو نا هيلى نه وم.
د محبوبې انځورونو په لټه مې پيل وکړ هڅه مې کوله تر څو خپل مات زړه ته پرې ټکور ورکړم.
بلا ډيرې شپې مې ورته رنې کړې بلا د ډيرو کتابونو پاڼې مې واړولې تر هغه مې خپلې مبارزې ته دوام ورکړ.
تر څو خپلې موخې ته ورسيدم.
انځورونه مې پيدا کړل هماغه انځورونه کومو انځورونو چې [illegible] مات [illegible]
دا انځورونه مې ځکه د ړوند امسا ساتلي ويرېږم هسې نه

Ketabton.com



صبرې

درو او شعرونو نه پوهيدم خو
و شپنو له خولې اوريدل چې

لاړم يو شپونکي څه ويل او له
رسته مې خواته را ورسيد ور

رې مې خپلې مشوقې ته وهلې
نه اورې.

ويې ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه ورک شي بیا ماتې ونه خورم.
نو تاسو ته يې امانت درکوم.
هيله ده زما د محبوبې انځورونو ته زما په سترګو وګورئ
شايد دومره به ښکلي نه وي خو په يقين وايم چې ډېر
بدرنګ به هم نه وي.
نور نو زه ستاسې او د لفظونو انځورونو تر منځ نه خنډ کيږم
تاسې انځورونو ته پرېږدم.
له عبدالهادي اثر څخه نړۍ مننه، چې د کتاب په ډيزاين او
سټينګ کې يې خپله خواري کړې، ګوتې يې خاورې مه شه.
په پای کې د خپلو ټولو درنو ملګرو هر يو عبدالرشيد
همت، ډاکتر عطاالرحمن صافی، محمود شهيم، مطيع الله
پرهر او په ځانګړې ډول د ميهن خپرندويې ټولنې مشر
ښاغلي بشير احمد همت نه مننه کوم چې دا انځورونه يې تر
تاسو ورسول.

اوبه يې يخې او ډوډۍ يې تل ګرمه اوسه
کور يې ودان
محراب ګل مخلص
**٢٢/٨/١٣٩٥**
کوز کنړ خپل کور



*/اجمل/اند*

## خدايه! (ج)

خدايه ! ژوند ، د شنې چينې په شان راته راوبښه
زړه دا ستا په عشق باندې ودان راته راوبښه

ټولې وسوسې زما له ذهن ځينې کډه کړه
ای خاونده ډاډ او اطمينان راته راوبښه

دومره ډېرې ډېرې مې د زړه له خونې وباسه
دې سينه کې نور د ټينګ ايمان راته راوبښه

داسې يو اميد چې مې دې سترې ژوند ته رنګ ورکړي
خدايه يو سپېڅلی شان ارمان راته راوبښه

ستا د رحمتونو په دربار کې دا دعا کوم
ډېر يمه ناتوانه خدايه توان راته راوبښه

دا د غربت شپې مې ای خالقه ته رالنډې کړه
ژوند پر يو ودان افغانستان راته راوبښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



*بختیار تلاش*

## غزل

اوښکې مې په سترګو کې تودې کړه او بیا لاړه شه !
ختمې مې وجود کې هدیرې کړه، او بیا لاړه شه !

وامې خله او ښه مې د خپل اور په شور کې وسېځه
جوړې دې پر ما د اوففف نشې کړه، او بیا لاړه شه !

خپل خوی دې له خپله ځانه وشړه او شه خپه
خپلې هیلې خپله ذات کې مړې کړه، او بیا لاړه شه !

ته دې له خپل ځانه تېښته وکړه، ما ته راشه، خو
ځان مې په لوی لاس په ما پسې کړه، او بیا لاړه شه !

خپل ***تلاش*** له اوو رنګونو واړوه فاني یې کړه !
یار پسې د ټول جهان نارې کړه او بیا لاړه شه !



*میر احمد یاد*

## غزل

لکه ګلاب، په خپل اغزن ډنډر رامات هم زه
واه ! عجیبه انصاف، بدنام هم زه میرات هم زه

تر منځ مو سوله هم زه، جنګ هم زه، بیلات هم زه؟
او نذر هم زه او د چا د سر خیرات هم زه ؟
ته ملامته هم، سرخ رویه هم ، خوشاله هم
زه ملامت هم نه، خفه له تانه زیارت هم زه؟
اوس بې دلیله هم زه، چپ هم زه، برباد هم زه
او لا منم به، منسوخ شوي روایات هم زه ؟
ښه منت بار هم زه، دعوت هم ستا ، احسان دې هم؟
بیا به دردېږمه ، په دغه ملاقات هم زه ؟

هو قرباني هم زه، پردی هم زه او هیر هم زه
او شوم له درده خپله غیږه کې راقات هم زه

حضرت یوسف یوسفزی

## غزل

په ټوله لار، مې ستا نامه اخیسته ښار ته تلمه
او په همدې به مې دمه اخیسته ښار ته تلمه

تمامه شپه به ډیوې سره زه ویښ پاتې وم
سهار مې مور نه اجازه اخیسته، ښار ته تلمه

هغه روپۍ چې رانه ستا په دوا ولګېدې
نن مې پرې تاته لوپټه اخیسته،ښار ته تلمه

نو تا به وویل چې ځه خو په ځان خیارل ساته ډېر
چې به مې تانه مشوره اخیسته،ښار ته تلمه

مزدوري نه وه بده ورځ وه خو نه صبرېدم
له ***یوسفزي*** مې کرایه اخیسته، ښار ته تلمه



هدایت الرحمن غریبیار

## غزل

زه مې په خپل ځان باندې تاوان ښه یم چې ته ښه یې
پرېږده زه همدغسې حېران ښه یم چې ته ښه یې

ستا سترګې پر نمې مه شه ستا زړه دې ودان اوسې
زه د زړه پر ماتو پښو روان ښه یم چې ته ښه یې
سم لکه د چانه چې د ژوند څوک وتروړي
او که نه هماغسې پرېشان ښه یم چې ته ښه یې
ستا د هوښیار توب کیسه دې ورسېږي هر چاته
زه د لیوني د زړه ارمان ښه یم چې ته ښه یې
ته د اسوېلو او اندېښنو له ښاره ووځې
زه داسې اخته په وير د ځان ښه یم چې ته ښه یې

ته به خفه کېږې نه که ورونه هر څه کړي پر ما
زه لکه هماغه یوسف خان ښه یم چې ته ښه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هدايت الرحمن غريبيار

## غزل

دومره ناترسه خو ددې دَور انسان نه وو
ښار يي حلال کړو وايې يو هم مسلمان نه وو

دلته بلا، مخونه ده په وينو ورنګول
کالي يې سپين وه، خو په زړه کې يې ايمان نه وو
شايد قيامت و، قامتونه نړيدل، غورځيدل
شايد قيامت و، په سرونو مو آسمان نه وو
دوي به زما د نړيدو تماشه هم وګوري؟
زما له سره په يارانو دا ګمان نه وو
جانانه ځار دې شم، قربان دې شم، لوګي دې شمه
که ته پيدا نه وې نو اوس به دا جهان نه وو
مونږ د رواج د ذولنو نه بغاوت نه کوو
کنه دا چا وې؟ چې په زړه کې مو ارمان نه وو

ته يې غوښتلې ستا په پلونو پسې تلو ليونی
ستا **غريبيار** بلا وهلی خو په په ځان نه وو



سید شاه سعود

## غزل

ځان مې په لاره کې شيندلی دی راځه را پسې
ټوټه ټوټه مې د وجود را ټولوه را پسې

چې خبريدمه نو د خلکو رهبر شوی ومه
بس خو روان ومه او لاره جوړيده را پسې
دا اوس چې زه مخې له ورشمه او مخ اړوی
همدا جينی وه چې تر کلی به راتله را پسې
باور لرمه چې هيندارې به ړندې پاتې شي
که رڼه نه کړه چا د ستورو غوندې شپه را پسې
د زندګی را له مهار په لاس کې مه را کوه
ګوره بې لارې به شي ټوله قافله را پسې

**سعوده** زه يې تش په سترګو کې ساتلی يمه
ورته لږ و وايه چې تيزه کړي لمبه را پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عنایت ثاقب

## غزل

زړه کې مې د درد د څړیکو زغم نه و
پښو کې مې دا ډېره موده دم نه و

زه په داسې ځای کې رالوی شوی یم
چیرته چې کتاب نه و، قلم نه و

ځکه خو مې ځان درنه راټول کړلو
ستا بعضې کارونه یاره سم نه و

دا خلک د چا ازار وهلي دي
دلته خو ویرونه چم په چم نه و

خوښ چې و، یاران ترې زاریدل واړه
سخته کې **ثاقب** سره یو هم نه و



میوند درځار

## غزل

وخت سره به ګوتې لړې ماتې کړو چې څه کېږي
هیلې به د ژوند لپاره زیارتې کړو چې څه کېږي

ستا له درد نه څوک د زړېدلو اندېښنه لري !؟
پرېده پدې زړه کې به یې پاتې کړو چې څه کېږي

خدایه په کتاب کې مې وعده د جنت ولیده
اوس به یې دا پاڼې ورته قاتې کړو چې څه کېږي

ما او تا د یو بل د ژوندي پاتې کېدو سبب
لاړې به د خولې اب حیارتې کړو چې څه کېږي

امن چې درځاره د ولس لپاره غواړو نو
خپله شاعري به سوله ساتې کړو چې څه کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خالد سنګر

## غزل

د محبت تاج مې په سر دی لا بې تاجه، نه یم
لکه باچا د ړو لښکرو ته محتاجه، نه یم

له ګاڼو کلک او له ګلونو نه نازکه انسان
خدای پیدا کړی د یوه شي له مزاجه ، نه یم

په ایینه کې خپل خواشیني مخ ته ګورم مدام
څوک وایي یاره چې خبر دې زه له جاجه ،نه یم

اوس هم زما د زړه په ګل لکه شبنم وربږي
جانانه خلاص دې زه د یاد له احتجاجه ، نه یم

پکې انسان ته د انسان په شان نظر نه کېږي
خوښ د نړۍ له دې بدرنګ ،بدرنګ رواجه،نه یم



اتل افغان

## غزل

اور ته او لمر ته به بیځایه په سجده پریوتم
تا ته راورسیدم خدایه په سجده پریوتم

چې رانیږدې به شوم نو ړنګ ړنګ دیوالونه به وو
چې کوم یو در ته به له ورایه په سجده پریوتم

ستا د ښکلا په تصور کې زندګي تیروم
په هر پړاو په هره سرایه په سجده پریوتم

اوس دې تیرو خطاګانو پیغور نه راکوی
اوس دې خپل ضمیر ته وایه په سجده پریوتم

ما چې د خپل کرم د سیوري لاندې ودروې
ما ته هم هغه لار راښایه په سجده پریوتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



*سید شاه سعود*

## غزل

ما ریشه ریشه باسلو ستا وجود له خپله ځانه
خو په خدای چې یو ذره هم کمیدلې نه جانانه

دا منم چې ټوله لاره څو شیبو کې سر کیده خو
بې قدمه وم په دې چې مزکه نه وه تر اسمانه
ما وی لاس به درنه واخلم فاصلې به درله درکړم
خو چې څنګه رانژدې شوې نو کیسه شوه ټوله ورانه
هر نظر به دا ګڼله چې جهان به رانه ډک وي
هر بدن خپله خوشبو کې ځان ساتلې و پریمانه
څه د سترګو فریبونه څه د رزق بندیزونه
څومره جوخت چې راسره وې دومره لرې وې له ما نه

هره ورځ ورله **سعوده** رنګ او نور زما په کار وي
بیا په سترګو څه کومه چې اشنا شي بې جهانه



*جلال امرخېل*

## غزل

زه لکه بُت ، چې سره ګلونه قتلیده ، ولاړ وم
چې زما زړه به و ولاړ او که به زه ولاړ وم

خلکو سهار نه تر ماښامه ستا لټون کولو
زه به سهار نه تر ماښامه په لمانځه ولاړ وم
ما وې چې ځان په خلکو ووینم د لمر په تکیه
څومره کمزوری وم ، همیش په لمرخاته ولاړ وم
زه له هغې پس بیا په دواړو پښو پریوتمه
زه تر هغې چې ستا اواز مې اوریده ، ولاړ وم
چې را په یاد به شوې چې تا له به بنګړي راوړل وي
نو مزدورۍ ته به په لمر او بارانه ولاړ وم
سپوږمۍ په تلو وه ، هر سړی په کټ کې پروت و خو زه
د بې وفا د راتلو لوظ رایاردیده ، ولاړ وم

**جلاله**! څنګه مې حیرانه ځان ته ودروله
چې نه واپس ورنه راغلی وم او نه ولاړ وم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممتاز اورکزی

## غزل

نور څۀ آغاز د امتحان ؟ نور څه انجام د امتحان؟
ژوند سراسر یو امتحان او زه ناکام د امتحان

څه کا میابي؟ څه یې مزه؟ له ما یې مه پوښته جناب
خوف هر نفس د امتحان ، خوف په هر ګام د امتحان
بې خبري لکه یو خوب بې خبري لکه یو خیال
خبر دی خاص د امتحان ، خبر دی عام د امتحان
زه د ازغو نه یم راتیر ازغي مې هېر د ازغو هېر
غم دی د ګل د امتحان غم د ګلفام د امتحان
ګېر په ګناه ثواب کښې زه یم په عجب عذاب کښې زه
اوس امتحان دی زما جام اوس مې هر جام د امتحان
ګونېږم زه د ځان سره نه تا سره ، نه چا سره
خو به نیوکو کښې راځم شو مې کلام د امتحان

***ممتازه!*** اوس هره خامي بالا له پېچ ، بالا له خم
څه امتحان هم بلا خام، څه زه یم خام د امتحان



ممتاز اورکزی

## غزل

په خدای که په ګناه او په ثواب یم کلیواله
په خدای نن سبا بل شانې خراب یم کلیواله

دا کلی عذابونو هم راوینس نه کړو ،څه او کړم؟
برباد شوم کلیواله ، په عذاب یم کلیواله
زه تا په دې خبره څنګه پوی کړم؟ نه پوهېږم
زه خیال یم کلیواله ، زه سراب یم کلیواله
ملک راپوري خاندي او ملا اړوي مخ
بیخي په لیونیو کښې حساب یم کلیواله
غرېږه، زه خاموش یم درته ناست لکه د بت
وتلی ستا له سوال او له جواب یم کلیواله
چې اوسوم نو هیچا هم را او نه کتل.ځه خیر دی
نه سیخ یم کلیواله ، نه کباب یم کلیواله

نیم کلی خو به خامخا خلاف وي د ***ممتاز***
په دې زاړۀ کتاب کښې نوی باب یم کلیواله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ممتاز اورکزی

## غزل

ماښامه ! د خمار غوندې يو کس دی زما خوښ دی
ته نورې قيصې څه کوې ؟خو بس دی، زما خوښ دی

چې خپل مې شي چې خپل يې شم. دا نه ده زما وس کښې
ملګرو !! زما دومره پورې وس دی، زما خوښ دی

بې حسه ، بې سيواده دی په شل ځايه تقسيم دی
خو څه اوکړم ؟ همدغه مې اولس دی زما خوښ دی

دا جسم ، چې په يو ځای راټول شوی دی هم ښه دی
دا زړۀ ، چې په دې جسم کښې تس نس دی،زما خوښ دی

**ممتازه** ما ګلاب وو ورليږلی چې يې خو ښ وو
**ممتازه** راليږلی يې واپس دی، زما خوښ دی



ممتاز اورکزی

## غزل

له څنګ يې نه پاڅمه نه په ځان ستم نه کوم
مزاجه ! پرې مې ږده اختر دی زه ماتم نه کوم

ښه، چې ته وايې چې غم مه کوه نو نه يې کوم
زما په برخه دغه کار وو دا به هم نه کوم

له ميکدې نه را روان يم ،له دکانه نه يم
د خدای نيکبخته ! هيڅ حساب د دم قدم نه کوم

زۀ خپلې ويرې تنهايۍ ته دومره اوغړيدم
چې د سراب سترګه شوم هيڅکله به نم نه کوم

**ممتازه** ځان خو په جنت پسې وژلی نه شم
الله ګواه دی دومره خوف له جهنم نه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



*جلال امرخېل*

## غزل

دا نوی رنګ په دې ګلاب غزل کې څه وچې و
دا خو زما د زړه د زخم ټوکیده وچې و

له جنګه پس دلته ژوندی فکر بیا پاتې نه و
او هغه هم د مرګ په خوب باندې ویده وچې و
ما ورته وېل چې بې له تا خو قیارمت و په ما
سترګې یې پټې کړې په اوښکو وېل یې ښه وچې و
هغه هم ستا په اراده شو ، هغه هم پریښودم
زما په ټوله زندګۍ کې دا یو زړه وچې و
د ماشومتوب په کیسو ټوله فلسفه ختمه ده
مور به مې وې چې یو پاچا و چیرته نه و ، چې و
په یوه کس پسې مې زړه وکړې لمبې چې نه و
په یوه کس پسې مې زړه اوبه اوبه وچې و

**جلاله** ! ستا د رسوایۍ کیسه چا نه وه کړې
خو ستا غزل و په دې ښار کې خوله په خوله وچې و



*مشرخان ناظر*

## غزل

د غره لمن، نرۍ شمال ، سپینه کیږدۍ او شپېلۍ
د شنو نښترو زمزمې، ستوري سپوږمۍ او شپېلۍ

د جانان یاد ، درد او فریارد بل د مړو اوښکو ډیوې
د شبګیر شپه، د غم ټپې، ژړا سلګۍ او شپېلۍ
د چا تصویر دې لکه مړئ راته پروت پرې ویر کړم
ورته کووم د غم سندرې غرنۍ او شپېلۍ
د عشق جنون ،دا تریخ بیلتون او دا یواځې ژوندون
د ارمان چیغې مې راخیژي له مرۍ او شپېلۍ
زړه مې نادان، حسن پرست، په فراقت کې دیار
له مانه غواړي هره شپه د خوب ګولۍ او شپېلۍ

بیا **مشرخان ناظر** د سوز ډکې نغمې غږوي
یواځې ناست، تیاره ماښام، خړه سیلۍ او شپېلۍ

فاروق دیدار

## غزل

د خوښۍ وخت کې راسره وو خو په جنګ کې نه وو
چې مې پکار شول نو ملګري بیا مې څنګ کې نه وو

دلته پیدې ځمکه شناخت د انسان ګران ؤ ځکه
چې خیري خلکو بدلولی په یو رنګ کې نه وو

څنګه په نه خبره مخ اړوې نه راګورې
دا عادتونه خو یو وخت په تا ګلرنګ کې نه وو

هغه خوشبو مې ټولی حس کړلې ستا د وجود
کومې خوشبو چې کشمالو او په لونګ کې نه وو

***دیداره!*** بیا درنه انصاف غزل کې ندې شوی
ټول صفتونه د اشنا دی په اهنګ کې نه وو



فاروق دیدار

## غزل

څه به د ژوند د رنګینو د موسیقۍ مزه وي
څه به زما د میرات مړې زندګۍ مزه وي

څلور دیواله د کوټې او هم شیندلی هوس
زړه به دی خورې یوائې دا د خاموشۍ مزه وي

د ستا د شان سره چې ښایي داسې کله یو مونږ
څه به زمونږه د نیمګړې بندګۍ مزه وي

نه به همداسې وي رنګینه پرې دهوکه چې نشئ
نه به همداسې خیال کوه ددی نړۍ مزه وي

د چا وجود په خوشبویو باندې چې رنګ شې ذره
دیداره بیا به دی د شعر د شاعرۍ مزه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



*نورا جان بهیر*

## غزل

ورک ځان پسې وهمه لاس او پښې تپه تیاره کې
راګیر یمه د بندې دایرې کومه نقطه کې

لوګیږم که ښکاره یې شوم د سرو سترګو لمبه کې
زما په تماشه به شي په خپله تماشه کې
ما ټینګ په غېږ کې ونیسه وهمونو یم اخیستی
بل ور راپسې وتره د ننه په کوټه کې
ته غلی ! جل وهلی روح نن ښه دمه کومه
په ټکنده غرمه کې او په سپینه لوپټه کې
حیران یم چې ساه ګانې یې په مخکې رژیدلې
نو ولې یې ونه رېږدېدې ګوتې په ماشه کې
دردونو ! خیر که ما ورپسې ډیرې شپې رڼې کړې
اخر مې لالی وموندو د ستورو په جرګه کې

**بهیره!** د دې دور تضادونه عجیبه دي
جنګونه په جومات کې او لمونځونه په حجره کې



*خدایداد خیرخواه*

## غزل

جانانه مه ږده د غمونو راله غر په اوږو
زه خو په یره ګرځومه دا خپل سر په اوږو

ورې ماشومې د پلار قبر ته ژړل ویل یې
ما که پخلا نن راله بیا راکه چکر په اوږو
زما د مینې یو همدا کرامت منئ که نه؟
ما ژړولي ملایکې دي اکثر په اوږو
چې ښه د کار شي نو په خپله یې له کاره باسو
مونږه قبرونو ته راوړي دي سره زر په اوږو
دا سړی څوک دی چې ټوپک یې په اوږه ایښی دی
دا سړی ولې ګرځوي ځان سره شر په اوږو

چانده کېده ددې وطن د جوړېدو لپاره
**خېرخواه** راوړی وو د خپلې کوټې ور په اوږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بصیر الحق عادل

## غزل

څومره ژر خپه شمه او څومره ژر خوشاله شم
وه انسانه کله چې را وروسته ستا له خیاله شم

زه د محبت په یوه داسې حد کې ګیر یمه
یوه شېبه چې لیرې رانه درد شي نو بد حاله شم

ته خپل نفرتونه کوه زه به محبت کووم
داسې یوه سیالۍ کې دې بیخي پاتې له سیاله شم

پښو ته دې درټیټ شمه په چغو چغو وژاړم
جانې وه مورجانې چې خبر ستا له کماله شم

کډې یې تړلې دا دعا یې لپه کړې وه
خدای دې کړي چې زه هم د **عادل** دوی کلیواله شم



قدرت الله درمان

## غزل

ستا د زلفو په دیوال ګوتې راکاږم
د تېرو غنو په جال ګوتې راکاږم

په صفت کې دې کمې رانه وه نه شي
په خپل خیال د ډېرې په خیال ګوتې راکاږم
خوب کې وینم په رخسار دې لاس وهمه
د وربښمو په دسمال ګوتې راکاږم
مات کوډړي به یې بیا پیوندومه
په مات زړه مې د کولال ګوتې راکاږم
ستا د ښو ډک صندوق مې راخلاص کړی
په سکروټو کې کنګال ګوتې راکاږم
خوله غوښتل لرې خبره ده درمانه
په ویښتو کې یې په سوال ګوتې راکاږم

**درمان** ګله ښکلی عکس به مو راشي
ستا تر څنګ چې مې په شال ګوتې راکاږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس انتظار کامه وال

## غزل

بس که ښه ؤ که خراب ؤ انتخاب ؤ
د یو چا د خولې ځواب ؤ انتخاب ؤ

د تقدیر د ویش په هرې برخې خوښ وم
وخته ! ستا که هر عذاب ؤانتخاب ؤ

محبت ؤ که ځوانۍ وه که ارمان ؤ
میکده وه که مهراب ؤ انتخاب ؤ

چې یې شکل ؤ ستا شکل سره ورته
که نرګس ؤ که ګلاب ؤ أنتخاب ؤ

که **میرویس** نورو له هر څنګه ؤ وبه
ماته ګران خانه خراب ؤ انتخاب ؤ



شفیع الله مصور

## غزل

کربلا ښې که په وینو باندې سره شوه
د حسین جذبه سړه نه شوه، توده شوه

دا د چا د وینو، اوښکو تسلسل دی؟
دا سینه د ځمکې څه باندې لمده شوه؟
د یو چا په انتظار پښتنه پېغله
په څلورو دېوالونو کې زړه شوه
د ساقي د تندې ګونځې پرې مسکۍ شوې
چې توبه رانه په څښلو کې اوږده شوه
ستا پر وړاندې مې له یاره ووتله
که خبره مې په شونډو کې ویده شوه
ته یو اځې، خو خبرې دې وې ډېرې
موږه دوه و، خو خبره مو یوه شوه

اوس هر چا ته په کې خپل تصویر ښکاریږي
ستا تصویر خو **مصوره**! ائینه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمال ثاقب

## غزل

بې له تانه هم ساه اخيستى شمه ته لاړه شه
زه به مې په خپل وجود کې ځاى شمه ته لاړه شه

پرېږده ! چې لمبه شمه لوګى شمه ته لاړه شه
اوس د زنده ګۍ غمونه وړى شمه ته لاړه شه
بيا به دې له تلو نه پس لمنه د زړه وڅنډم
بيا به لکه خپلې اوښکې توى شمه ته لاړه شه
نور به نو په ما باندې له دې نه پورته څه وشي !؟
دومره ده چې روغ به لېونى شمه ته لاړه شه
نه ! نه ! ته زما لپاره شاته-شاته مه ګوره
نه ! نه ! زه ژوندى پاتې کېدى شمه ته لاړه شه

تل به مې په زړه کې ستا د مهر ډيوې بلې وي
تا پسې په ورکو لارو تلى شمه ته لاړه شه



کرن خان

## غزل

له تانه به څو واري شمه ځار له تا قربان
زما خو داسې زړه دى لکه لوى افغانستان

په تېر عمر دې بيا په ځان مَېن کړم لېونۍ
زړه ډېر څه راته وايي، خو وېرېږمه په ځان

ستا غم لکه اولاد راباندې ګران دى نور يتيم يم
بچى د غريب پلار يمه وطن مې هم دى وران

دا دومره عمر چرته وې جانانه په خير راغلې
اوس ځمکه هم ښايسته شوه مهربانه شو اسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



غني هاشمي

## غزل

که د نرۍ له شپېلۍ غږ د یکه ځار پورته شي
هوسۍ به ګرد کېني، ګډا ته به ښامار پورته شي

راځئ د کرکو چم ته یوسو یارقربان ملګرو
چې د لمبو له تله ښکلی لاله زار پورته شي

پړانګ بیا له ستنوني کلک نیولی دی دبلاربې هوسۍ
خو زه یې اورم چې اسمان ته یې کوکار پورته شي

بیا به ګلپاڼې وروي لاندې د کاڼو پرځای
که د ژوندون ځلي ته څوک د عشق پرلار پورته شي

شي به راشنه د «**هاشمي**» د احساس سوې ځمکه
له سوو ځانګو که د شنو هیلو بهار پورته شي



غني هاشمي

## غزل

لمبې وې د انسان له سوي ځانه جیګېدې
وریتې چیغې د خدای تر لامکانه جیګېدې
خندا د یوه قاتل او سوې ساندې د مقتول
دا دواړه سره یوځای مسلمانه جیګېدې
تا سر ټیټ کړی نه دی، نو د سر د غوځېدو
دا نوې پالیسۍ به خود افغانه جیګېدې
قربان دې شم، چې ولې لا هم پوه نه شوې باچا ؟
د دېو له هرې ناستې پښېمانه جیګېدې
یو وخت وو، چې به تا ته داسې ټیټې ټیټې نه وې
یو وخت مو سترګې تا ته هم شیطانه جیګېدې
ای کاش چې ماتې ګوتې زموږ د سوو اسویلو
د وخت د قاتلانو تر ګرېوانه جیګېدې
پرون ابلیس وژلې پرښتې د هسک پرلار
په لاس یې چې ښېرې مو تر یزدانه جیګېدې
نن بیا عرش کې توبه توبه ناري د پرښتو
دا ستا په حال زما افغانستانه جیګېدې
وې ناست (**هاشمي**) بیا د سرو سکروټو پر غونډۍ
سپرغۍ ستا د غزل له یارقربانه جګېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرر ساپی

## غزل

بس دی چې ستر ګو کې او به د رپسې وګرځوم
دا سې نو مه کوه چې زړه د رپسې وګرځوم

ته چې مخ کومې خوا ته واړوي رڼا وکړي
زه نو هم هغې خوا لېمه د رپسې وګرځوم

د ګېډۍ زلفو بار دې درون دی نازولې نجلۍ
خوښه دې نه ده چې دا زه د رپسې وګرځوم

ډېره موده وشوه چې نه ښکارې او نه دې وینم
چېرته په شونډو کې خواږه د رپسې وګرځوم

**شرره** یاره ته به یې که ته به نه یې یاره
که زه لشې بانه د رپسې وګرځوم



حنیف حیران

## غزل

هیروم دی خو په زړه کی را په یاد شی
کنهګار نشم لمانځه کی را په یاد شی

که می هر څو یی له زړه ځینی ویستلی
نوم دی بیا راشی په خوله کی را په یاد شی

هیرولو ته دی کوم ځای سړی لاړ شی
زه پوهیږم لا په غره کی را په یاد شی

دهمزولو له اتهه ځینی وځم
دهمزولو په واده کی را په یاد شی

لکه لمر په را ختلو کی دی ګورم
لکه لمر په پریوتو کی را په یاد شی

حنیف حیران

# غزل

ستا د غونډې زنې خال ته پاتې کیږي
پسرلی دا ځلې کال ته پاتې کیږي

پښتنو لره نور زهر خوړل بویه
که تر دې هم ابتذال ته پاتې کیږي

دې یارانو مې ماضي کې څه موندلي؟
چې نه وړاندې ځي نه حال ته پاتې کیږي
دا مین له خپله مرګه ځکه تښتي
په ژوندوني یې وصال ته پاتې کیږي
ځئ ! په خپلو ماشومانو زده کړې وکړو
ګني دا ډیوې شمال ته پاتې کیږي
زه مې خپل زړه ولې تا باندې تاوان کړم
مات منګی بېرته کولال ته پاتې کیږي

د تمبل شاګرد په څېر شولې **حیرانه**!
هر ځواب دې بېرته سوال ته پاتې کیږي



شفیع الله مصور

# غزل

په خپلو روا یارتو نه، سېوا کوي خالقه
احساس مې په دې حال هم ستا رضا کوي خالقه

دا بس نه دی چې خپل تصویر د بل چا په نوم ژاړم؟
حالات ! د جبر کومه انتها کوي خالقه
چې دا دې د بنده د اختیار کومه مرتبه ده؟
چاړه مې په مرۍ ږدي بسم الله کوي خالقه
قربان دې د کلام سپېڅلو تورو نه، توبه او
ملا یې راته څرنګه مانا کوي خالقه
تر هغې د سبا سترګې همدا سې ویدې پرېږده
تر څو چې راته دا سترګې رڼا کوي خالقه
خو تا راکړې دوه سترګې، یو زړه مې ورته ورکړ
نو اوس رانه د څه شي تقاضا کوي خالقه

تر څو به د خپل ژوند د لمبه فکر **مصور** وي؟
تر څو به نو په خپل تصویر ژړا کوي خالقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه نواز باقر

## غزل

هیچا ونه لیدې زما د ژوندانه تنها کې
په ډیرو چیغو مې را وختې په خوله تنها کې

د وخت غربت د ژوند لټون او انتها د مینې
د چا لاسونه د چا پښې او د چا زړه تنها کې

اوس به مې تنده ماته کړی وی پرې ترې یمه
د خدای نه ځار شمه اوس نه کوي اوبه تنها کې

چا ټکولو ټوله شپه زه ویده شوی ومه؟؟
سحر وختي مې ولیدې د کور په وره تنها کې

**باقره!** ما په داسې ښار کې زندګي تیره کړه
چې نه سندرې خلک پیژني او نه تنها کې



ګل رحمان رحماني

## غزل

څوک "د درې مورچل" او څوک هم د "فولاد" مین دي
هغه ډېر کم دي چې په خپل غره او هېواد مین دي

ورپسې نه مرمه، خو ستونزه مې بس دغه ده چې
ځینې خیالونه مې پخوا د چا په یاد مین دي
څه رنګ په رنګ مې ژړوي، څنګه مې وینې زبېښي
ته به وا دوی زما په اوښکو او فریاد مین دي
دلته د بڼ ګلونو هم خپل طبیعت هېر کړی
له وږمو تښتي، په توپان مین، په باد مین دي
زه د ګلپاڼو هار وروړم دوی مې تر داره بیايي
دوی را لوی شوي په چړو کې، په جلاد مین دي

د ژوند جنت یې د دوزخ له سرو لمبو نه ځار کړ
د هدیرو خلک لا هم په "زنده باد" مین دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیات الله ګهیځ

## غزل

په تهمتونو رنګ جامې درسره ښې ښکاري
له کلي مه ځه ! دا کوڅې درسره ښې ښکاري

اوس مې ریبنې ریبنې ګریوانه پورې ځله خاندي
تا راته ویل چې زولنې درسره ښې ښکاري

سره لوپټه سره اننګي او تکې سرې شونډې
بس ګرځوه یې دا لمبې درسره ښې ښکاري

سپرلیه شین ځادر په منډه منډه مه ټولوه
زمونږه غرونه او درېې درسره ښې ښکاري

**ګهیځه**! پام د میخانې دروازه بیرته نه کړې
دا څونډې داره شنې تسبې درسره ښې ښکاري



اتل افغان

## غزل

مخامخ به کېنو ایېنه به منځ نه لرې کړو
یه زما هم شکله فاصله به منځ نه لرې کړو

څو به را ایسار یو د کوډګرو منترونو کې
ځه چې نور بهر شو دایره به منځ نه لرې کړو
مونږه د تاریخ په نوم وختې غولېدلي یو
بس دی تېره شوې زمانه به منځ نه لرې کړو
ولې مو د یو بل د راتلو لار بنده کړې ده
کور چې مو شریک دی، دروازه به منځ نه لرې کړو
بیا به د وژلو اراده یو بل ته نه لرو
داسې چل به وکړو خزانه به منځ نه لرې کړو
کم تر کمه ستا دا انتظار خو به مې نه وژنې
ته که بیا راتلې هم خو وعده به منځ نه لرې کړو

مونږ که په رښتیا زړونو کې خپله رښایي لرو
ظرف به مو بیا دا وي، چې ډیوه به منځ نه لرې کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرویس انتظار کامه وال

## غزل

نه داسې نه ده چې به دومره په اسانه کیږي
دچا د زړه ساتنه ګرانه ده په ګرانه کیږي

حیران په دې یم بې له تا مې ژوند تیریږي څنګه
څنګه مې یاره ګوزاره اوس بې له تانه کیږي
زه خپل دښمن په دې بخمه غچ ترې نه اخلمه
خیر دی انسان دی خامخا خطا انسانه کیږي
چانه یې وګټمه چانه یې تپوس وکړمه
زما په ګران وطن تیری له هرې خوانه کیږي
ددې ولس خلکو کرلی فصل وسوزیده
ددې ولس ګیله له تا ځنې بارانه کیږي

چې د نفرت ډکو حالاتو کې وسیږمه زه
**میرویسه**، ځکه خو مې ویره له خپل ځانه کیږي



سید مرسلین متین زی

## غزل

سترګو ته دې نه ګورم خمار به رانه پاتې وي
ژوند به رانه پاتې وي روزګار به رانه پاتې وي

نه کنه زما د پرهرونو پروا مه کوه
تا ته به درګورمه پرهار به رانه پاتې وي

نه ، نه مړه ماته د لفظونو ښکلا مه ښایه
ځیرې به غزل کړمه معیار به رانه پاتې وي

بیا مستو څپو ، د کلي شور په سر اخیستی یم
کلی به مې خپل کړمه او ښار به رانه پاتې وي

پرېږده **متین زیه** ستا غمونه په سر نه وړمه
پرېږده د جانان د زلفو شمار به رانه پاتې وي

حسن ولاړ

## غزل

د دې خوبونو اباد ښار ته به نور اور واچوو
چې نه ختمېږي انتظار ته به نور اور واچوو

اوس دې د یاد مرغه په بل نښتر کې ځالې وکړې
زړونه به سخت کړو دې چنار ته به نور اور واچوو

یوه خبره په کې هم د حق له پاره نه کړې
دې بې ضمیره اقتدار ته به نور اور واچوو

چې هره ورځ ورته د غره د سره لاندې راځم
د تصویرنو دې قطار ته به نور اور واچوو

چې هر نظر دې په نفرت راستنوي وي حسنه
د محبت داسې اظهار ته به نور اور واچوو



قدرت الله درمان

## غزل

ایله ارام شومه ایله مې لړه ساه واخېسته
زما نامه چې د رقیب په وړاندې تا واخېسته

په بېلتانه مې زندګي دغسې ودوړېده
لکه میده خاوره له ځان سره هوا واخېسته
نور په پیرانو بې باوره شومه کار نه کېږي
لاړم د یوه ملنګ شاعر نه مې دعا واخېسته
هغې به دومره جدايئ کې ژوندون څنګ کړی وي؟
ما به چې تش ووې چې ځم (دي) به ژاړا واخېسته
زما د ډېرې مړاوي هیلې په ناڅا راوستې
په ترنم چې غرنۍ سندره تا واخېسته

ښه چې زما غزل خواره نه دي د زړه درمانه
په اورېدو دې یې ببګاه ولې ناڅا واخېسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوله ژوند

## غزل

ساده ساده ژوندون ته نوی رنګ ورکول غواړي
بې سازه ورځو شپو ته لښ آهنګ ورکول غواړي

د مینې او د وینې تړون خپله نور ټینګېږي
فقط د ننګ او جنګ کیسو ته څنګ ورکول غواړي
پهٔ څومره بې نیارزی کې د ځوانۍ پهٔ خوب اودهٔ دی
راویښ یې کړه بنګړیو ته دې شرنګ ورکول غواړي
ګرم نهٔ دی دهٔ نشه د لونګین لیدلې نهٔ ده
دا بنګ ترې یوې خوا ته کړې لونګ ورکول غواړي
د علم دولت سوزوي د خپټې جهنم کې
بچو ته د قلم پهٔ ځای کولنګ ورکول غواړي

ملنګ د پاکې مینې یې د خیال کنډر ته راغی
نو ځکه (**سوله ژوند**) د زړهٔ قلنګ ورکول غواړي



ثانیه ارمان

## غزل

نه له اقراره چرته ځي نه له انکاره وځي
ستا په اوږدو اوږدو وعدو سړی له کاره وځي

جوړې لمبې مې د زړګي د ننه پاتې نه شوي
خړ خړ لوګي چې د بر کلي له چناره وځي

هغه چې خپل کلي پرېږدي څه لېونی خونه دی
ستا په پېغور باندي شرمېږي ستا لپاره وځي

دژمې لنډې لنډې ورځې پکې ستا یادونه
دا لېونی به دې اخر هم له روزګاره وځي

څوک یې د بندو دروازو سیوري ته هم نه پرېږدي
**ارمان** ګرم نه دی چې په نیمه شپه له ښاره وځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسر ملاجان

# غزل

ډیر په دې څیزونو پیره ! غلطیږو
اوږدې زلفې په لښت ږیره ! غلطیږو

چې پېسې وي ښکلې پېغله وي بوتل وي
بیا چه څه غواړې وزیره ! غلطیږو
د چا زلفو کښې تر ډیره وخته ګیر وو
ځکه تا باندې زنځیره ! غلطیږو
عربي باندې پوښتنې له مونږ مه کړه
یه منکره ! یه نکیره ! غلطیږو
انسانان یو پرښتې خو مونږ څه نه یو
څه نا څه خو به ضمیره ! غلطیږو

نور تر کومه په دې هورو او غلمانو
**ملاجانه** دسته ګیره ! غلطیږو



قیس هاشمي

# غزل

ډېوه مړه کړه ویده کېږو
توره شپه کړه ویده کېږو

څه د ژوند خوږه سندره
زمزمه کړه ویده کېږو

ځان غزل کړه ویده کېږو
ما ټپه کړه ویده کېږو

وخت خراب دی ورشه بنده
دروازه کړه ویده کېږو

**قیسه** راشه په سرو شونډو
خوله خوږه کړه ویده کېږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید لقمان حساس

## غزل

زه خو اوس ستا شومه ته دا غزلې ولې لیکې ؟
دا سې خفه او ناروا غزلې ولې لیکې؟
ستا هغه بیت (چې ته زما شې شاعري پرېږدمه)
هغه دې هیر دې؟ته اوس بیا غزلې ولې لیکې
ګوره ملګری دې پوهیږي چې نامه مې اخلې؟
**حساسه** مړ شې ته په ما غزلې ولې لیکې؟

***

محمد عمر ښبوه وال

## بیتونه

نه پرېږدي د سر سړي
وژني د هنر سړي
دا د پښتنو دښمن
ولې په ټټر سړي
خدایه ته نور وساتي
زموږه د لښکر سړي



سوله ژوند

## غزل

بس همدا سې ننواتې ننواتې
نورې بس کړه دا میراتې ننواتې

زما زړۀ کې درته غر د ګیلو پروت دی
ستا پۀ مخ او ښکې راماتې، ننواتې
ستا شوخۍ لکه چې ستا پۀ واک کې نۀ دي
پۀ معصوم نظر کې ساتې ننواتې
هسې نۀ چې مرور شې رانه پاتې
ګله ! نورې رانه پاتې ننواتې
ستا د زور نۀ یم بېلتونه لۀ ناکامه
درولمه دومره زیارتې ننواتې

هغه خپل زړه نه مجبوره شي پخلا شي
تۀ لۀ **سولې** سره زباتې ننواتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیر الرحمان بېتاب

## غزل

ارمان، باور، ښایست، زړګی په کې ستم هم یو څه
زه باوري ستا په دروغو باندې، یم هم یو څه

یو د ښکلا احساس، بل درد په ټول وجود مې هاوي
زه چې درځمه ستا په لور، نو درنه ځم هم یو څه
زه خو فطرت د ښایستونو ذخېره ګڼمه
ځکه په غوږ کې کاغذي ګلونه ږدم هم یو څه
نن چې اذان د نوښت کړی، غزلخوان دلته دی
باور لري په خپل هنر او په قلم هم یو څه
انسانیته ! په تا شرم او که ویاړ احساس کړم
نن دې غندمه او سبا ته دې لمانځم هم یو څه

ستا د وجود نازک احساس ما کې تیارې خوروي
که د رڼا برخه لرې، نو د تورتم هم یو څه



عابد ندیم

## غزل

ستا په لیدو مې داسې زړه خراب شي
چې نه په حال پاتې شي نه خراب شي

ژوند تانه پس هغه حالت وګڼه
چې په کاغذ واورې اوبه خراب شي
ما وی سګرټ مه څکه خراب به دې کړي
وی د خرابو نه به څه خراب شي
زړه سره دومره مینه نه ده پکار
چې نازولې شي واړه خراب شي
شېخه اعمال که د زاهد وګورې
کېدای شي خپله دې ماغزه خراب شي

**ندیمه** نوره یې نامه هېره که
ګینې د خولې خوند به دې ښه خراب شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل محمد مهد

## غزل

زړهٔ چې مې ستا په لور روان وي زړهٔ نازړهٔ وي روان
لکه يتيم ماشوم خفه خدازده په څهٔ وي روان

په هغه شپه شکر وباسم چې څوک هيڅ نه دي مړهٔ
په کومه شپه چې په اسمان کې ستوري نهٔ وي روان

زموږ د ژوند هره لحظه کټ مټ هماغسې ده
لکه په خوب کې چې کوم کس پر سر دغرهٔ وي روان

ددغو خلکو يو عجيب خاصيت همدا، هم دی چې
څومره چې سيخ ورسره ځې هومره کاږهٔ وي روان

ددې وطن حالات تر دې ځايه راورسيدل
څوک چې صحرا ته ځي نو هم په اوداسهٔ وي روان



مصطفی سالک

## غزل

ستا د اوربل، ستا د رخسار، ستا د لېمو کيسه ده
څه مختصره اوس زما د ورځو شپو کيسه ده

ماته ښکاره ده د شبنم او د ګلاب فلسفه
زما په غېږه کې بس ستا د غوړېدو کيسه ده

په ګلورين خلوت کې ستا د شونډو لمس غواړم
دا په جنت کې د خوږو خوږو لمبو کيسه ده

څه چې د ځوان هوس په واک کې د ژوند واګی ورکړو
ګڼې پيل شوې اوس زموږ د زړېدو کيسه ده

ته نظريه په محبت کې د تعمير نه لرې
تاته خو زړونه ماتول هم د بنګړو کيسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید مرسلین متین زی

# غزل

ماته دې مه ښایه د مستۍ زندګۍ تصویران
ماسره شته مړې زما د ملنګۍ تصویران

بیګاه مې ښه په چیغو چیغو ورته وژړلې
ما سره جیب کې ؤ یو څو د لېونۍ تصویران
په مېکده کې مې ښه ډېره مستي کړې وه چې
پټ وه اخیستي چا زما د بېخودۍ تصویران
یو داسې وخت ؤ ما په زړونو بادشاهي کوله
وګوره دا مې دي ملګریه د ځوانۍ تصویران
زه د دې وخت له حکمران نه خود ګیله کومه
چې دې ونه لیدل زما د بېوسۍ تصویران

خپله دې نه کړه متین زیه خدای دې خوار نکه
په آور یې وسېزه د خپلې ګاونډۍ تصویران



نجیب تنها

# غزل

د دېنه مخکې چې د سترګو د معیاره اوځم
کډه به واخلمه او زه به ستا د ښاره اوځم

نور مې باور ستا د وعدو سره تړون نه کوي
نور به زه ستا کړي لوظونو د اعتباره اوځم

یو خوا غربت یمه راغیستی بل خوا ستا یادونه
که خوب او نه کړمه سحر به بیا د کاره اوځم

بغیر لته مې د بل چا په خوله صفت بدې شي
چې ته مې نه ګورې نو زه به د سنګاره اوځم

هزار غمونه دي چې زه یې بې د اوښکو خورمه
دا هو ستا غم دی چې اکثر زه د اختیاره اوځم

**تنها!** تا وایه چې کوځې ته مې اوس څله راځې
زه اوس د بل یمه نو څله ستا لپاره اوځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



*وصي ابهام*

## غزل

چې دعاګانې دې له زړه راپسې وشیندلې
د ښو اوښکې دې لېمه راپسې وشیندلې

څوک چې له کوره ځي اوبه ورپسې شیندي خلک
تا د ګلاب پاڼې په څه راپسې وشیندلې

د زړه لمن مې له غمونو تشه شوې نه وه
وخت اندېښنې د ژوندانه راپسې وشیندلې

هغه تصویر مې موړې اوس هم په لېمو کې اوسي
زه چې روان شوم تا اوبه راپسې وشیندلې

***ابهامه*** بیا رانه ازار شولو د چم لیونی
بیا یې تهمې د ګریوانه راپسې وشیندلې



*جعفر الماس*

## غزل

په زیارتونو باندې نه کېږي په دم نه کېږي
دا درد د مینې درد دی هیڅ ورسره هم نه کېږي

په دې یربړمه چې زړه مې کانړی شوی نه وي
ډېره موده وشوه چې سترګو کې مې نم نه کېږي
(ځنې کارونه د تهوپک نه بغیر نشي کېدای
ځنې کارونه داسې وي چې په قلم نه کېږي)
ته خپلې اورې او د بل سرې ته غوږ نه نیسې
مانه درپاتې یارانه په دې رقم نه کېږي
موږ پکې څه وو ایو پریکړې د تقدیر دې ګڼې
چې څه روان دي او څه کېږي دا خوسم نه کېږي

جانان په کړې وعده بېرته پښېمان شي وایې
ښنه غوارمه الماسه په قسم نه کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلال امرخېل

## غزل

د لوپټې سره دې ونيوې په خوله کې ګوتې
ځار دې له شرمه نور مې مه وهه په زړه کې ګوتې

ما ستا د زلفو په تارونو باندې وتړلې
زما له ګوتو ښويدې په بارانه کې ګوتې
ډيرې زما د نيتې کرښې په کې څه له کاږې
درنه به پاتې شي جينۍ په ديواله کې ګوتې
د عشق له درده مې کړه داسې ناګهانه چغه
لکه ماشوم نه کله ونښلي په وره کې ګوتې
تر څو چې ته د زړه ګلاب راته راليږې په کې
اوبه اوبه به وي له ما نه په ويارله کې ګوتې
په رکاتونو کې خطا کړم د بنګړو ماتيدو
د سودا يارنو غوندې شمارم په لمانځه کې ګوتې

ستا جدايۍ په خپل نصيب کړمه حيرانه پاتې
**جلاله** و مې سوځيدې په تناره کې ګوتې



سيد شاه سعود

## غزل

بند په بند د ژوند په زولنۍ تړلی شوي يو
پس له مرګه هم په زندګۍ تړلی شوي يو

اوښکې يو تړون مو تر لمنې غزولی دی
سترګې يو په خپله جدايۍ تړلی شوي يو

مونږه د تسپو دانه دانه په زړه ويشلې ده
ځکه د وريښمو په رسۍ تړلی شوي يو

خپله ازادي مو په خړپوسو کې ساتلې ده
مونږه ماشومان يو په سيزنۍ تړلی شوي يو

څه وکړو **سعوده** چې سيلاب راپسې نه راځي
تل به د دريارب په بله جۍ تړلی شوي يو

حضرت نښبوه وال

## غزل

څومره ساده ګي چې لرم دوه دومره غرور لرم
سر به له وطنه ځار کړم دا عزم ضرور لرم

خدای دې ما محتاج نه کړي د بل قانون او ژبې ته
خپل لرم قانون قرآن خپل فرهنګ کلتور لرم

نه غواړم خاني او نوابي د بل د لاس لاندې
خوښ یمه آزاد په ملنګۍ کې دا دستور لرم

حال یې د فرعون شي چې څوک کبر په ما کوي
مست شوم سمندر غوندې شور لرم سرور لرم

نه مې پرېږدي خپل ژوند ته خپل کور کې دا نور خلک
وایي ***نښوه وال حضرت*** چې کوم ګناه قصور لرم



درد

## دوه بیته

دا لا څه پښتو ده چې دې هېر کړمه
دا سې پښتو وکه، رایارد پرېږه مه
نه غواړم خوندونه درنه نه غواړم
ای د ځوانۍ عمره خو تېرېږه مه

***

محراب ګل مخلص

## دوه بیته

دا خپل ژوندون مې رسومه تر اجله پورې
په خطرناکو لارو ځمه خپل منزله پورې
ای د دغه دور حاکمه زړه دې یخ شو کنه؟
چې اور دې بل کړ له خیبره تر کابله پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



*قیس هاشمي*

## غزل

ته راته وګوره دغه خو نه یې
هېر مې شول وې رښتیا دغه خو نه یې

مور یې ورغږ کړه په کټ کټ مه خانده
ته خو اوس پېغله یې وړه خو نه یې
غزل غزل مې کړه ټپه ووایه
ګرانې ژوندۍ یې کنه مړه خو نه یې
کباب کباب شوم چې درومې کتل
اور دې راپورې کړ لمبه خو نه یې
مورې ! نه نه تا مرګ ته نه ورکوم
مورې ته ځوانه یې زړه خو نه یې
ببګا چې ترږې شوم ترې ومې پوښتل
ای زه اوبه غواړم ویده خو نه یې

**قیسه** په دې عمر کې داسې غزل
**قیسه** لالیه نابغه خو نه یې



*اباسین یوسفزی*

## غزل

هر څوک زما غوندې ساده نه وي چې زیار وباسي
خلک پښتو مښتو په تندر ولې کار وباسي

دوی هر منزل ته په لنډو د رسیدو قایل دي
پښتانه ځکه په سمسور پټي کې لار وباسي

د داسې باغ به اخر څوک وي چې پالنه وکړي
چې ترې مالیارن پخپله بوټي میوه دار وباسي

سکنیه روره ! د شین سترګي په پښو مه پرېوځه
لالا ایتم هرې غوټۍ نه د کوکنار وباسي

یاران خو پرېږده دښمنان یې هم په ځان مئین کړل
ستا **اباسین** خلک په دې جرم له ښار وباسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورالحبيب نثار

## غزل

سحر، صبا، د چينې غاړه او روانې اوبه
جانانه ما له خدايه غواړه او روانې اوبه

د چا د مست غزل په شاني زړه ته لاره کوي
ستا د ګړي په شاني غاړه او روانې اوبه
د خپل تصوير په تماشه، تصوير اوبو وړی دی
جينۍ ده ځای په ځای ولاړه او روانې اوبه
چې په غزل کې مې راځي، مناسبت به لري
د ترهېدلي ښکلا ژباړه او روانې اوبه
د چا لېمې له اوښکو ډکې، د چا شونډې وچې
خدايه يو ځای کړې دغه شاړه او روانې

څه عجيبه شاني يو خوب دی چې همېش يې وينم
**نثاره** ته او هغه دواړه او روانې اوبه



جاويد شاه درمان

## غزل

دومره غريب وم، چې ګنډلو له يې ستنه نه وه
بلا موده زما قميص پورې لمنه نه وه

غريبي داسې چې ازغی هم په ازغي وباسم
قسمت مې داسې چې په ټول کلي کې غنه نه وه

څه بلا ګران دي د پردي جيب نه پيسې وباسل
نن مې لېدل د يو مزدور د لاس څرمنه نه وه

د خپل احساس د سيوري لاندې مې دمه وکړله
د ښار کوڅې ټولې پخې وې، پکې ونه نه وه

**درمانه** تلې ميکدې ته وم واپس راغلمه
په دې خبره چې د مور راته بښنه نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



*درویش دُرانی*

## غزل

د یــار وزلفــو تــه بــه ځېــر ومــه تــر ډېــره پــورې
ځوړنـد بـه زه پـه دې ځنځیـر ومـه تـر ډېره پـورې

مور که به څه هم د دوښمن وه؛ خو چې بوره به شوه
پـه خدای چې زه بـه هـم زهیـر ومـه تـر ډېره پـورې

جانـان ویـل چـې دا زمـا د بـارخو زر بـه سـتا وي
پــه دې خبــره زه امیــر ومــه تــر ډېــره پــورې

زما د خپل بخت ستوري نه وو، ستا د زنې خال و
چـې زه یـې لانـدې تـر تـاثیر ومـه تـر ډېره پـورې

د دغـه خلکـو سـاده تـوب دی تـر دې حـده پـورې
چې زه **درویـش** هـم پکـې پیـر ومـه تـر ډېره پـورې



*محمد ګل منصور*

## غزل

د کلیـوالې مینـې اور پـه زړه کـې بـل کـړه زمـا
رومـال راولیـږه ! نامـه وربانـدې ګـل کـړه زمـا

پـردې راوړی نـه خپلېږي خـو یـو سـوال کومـه
خدایه ! بس دغه یو پردی راوړی خپل کړه زما

ویل یې واه واه ته شاعر یې څه یو کار خو وکړه
ما تـه غـزل ولیکـه، یـاد پکـې اوربـل کـړه زمـا

آخر مـین دې یم، پـه خـوا مې دا سې مه تېرېږه !
خـازې د قبـر پـه نـازکو شـونډو ښـکل کـړه زمـا

**منصـوره**! زه چې لـه خپـل کلي نـه وتـم ویـل یـې
درسره تلی نه شم، خو یاد ځان سره مـل کـړه زمـا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرر ساپي

## غزل

ښکلي چې هر خوا ته نظر واړوي
سم لکه خومان د کوثر واړوي
دا د کرس خندا لکه د توري خرپ
ما او زما زړه به په شر واړوي
داسې معصوم ګوري ته وا هيڅ نه دي
غلا به د زړه څوک په دلبر واړوي
مسک يې پسرلي په اننګو کې شي
زلفو ته څنډ ورکړي سحر واړوي
دا خامې خولګۍ او دا او مه ښکلي
ما به د خپل هوډ نه اخر واړوي
ماته مې جانان سترګو ته ودريږي
لاس چې کوم مين په دلبر واړوي
وخت زمونږ ملګري دي ساده ياره
جام به دي د کبر په سر واړوي
دومره به دې ښکل کړي چې اوتره شي
خدای به دي يو ځل په **شرر** واړوي



محمد زمان سهيل

## غزل

چې له حواسو مې د غره ډېرې قاتي کړلي
د آرمانونو جنازې مې هلته پاتي کړلي

د خان مزدور ومه دمې ته په کې وخت چرته وو
د لاس تناکې مې نو ځکه په غابن ماتي کړلي

زه به مړ نه يمه، که يمه نو په دې به يمه
که مې هر چېرته په پښتو خبرې زيارتي کړلي

د خپل آرمان جسد مې خپله په اوږو واخيست
او خپلو هيلو ته مې خپله ننواتي کړلي

د ځوانيمرګ سهيل په غم دې چرته ونه ژړل
تا تمامې ښکلاوې څه باندې ميراتي کړلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل رحمان رحماني

## غزل

ستوري مې په غبږ کې وو د شپې په ژبه پوه نه وم
ژونده ! ستا د ښکلې فلسفې په ژبه پوه نه وم

هېڅوک مې له خپل ژونده، له خپل درده خبر نه کړل
شاید د رواني زماني په ژبه پوه نه وم
دلته پسرلی هم له سلګيو سره مل راځي
ځکه ستا د اوښکو د کیسې په ژبه پوه نه وم
ژوند مې که پېچلی و، مانا دې کړ، تفسیر دې کړ
پوه وم په هر څه، خو د هغې په ژبه پوه نه وم
لارې د غزلو، د سندرو رانه ورکې وې
زه چې د ګودر او د چینې په ژبه پوه نه وم

جام مې له خپل ځانه، انتقام مې له خپل ځانه و
شکر چې د خپلې ارادې په ژبه پوه نه وم



رياض تسنيم

## غزل

بیا د زړه یو آرزو وړمه ، وړمه ده
لکه پېغله د ځوانۍ په خوب وده ده
ترخه ځکه ده چې عمر یې ډېر کم دی
خوږه ځکه ده چې ستا د خولې وعده ده
حال مو یو بل ته د کوم قیامت ونه وې
حال مو یو بل ته د کوم قیامت ونه وې
زه یم او یوه خاموشه دریچه ده
د انسان د زړه سکون پکې عنقا دی
درمسال دی ، که ګرجا ده ، که کعبه ده
انسانان پکې د ګوتو په شمېر اوسي
تش په نوم خو ډېره لویه ښاریه ده
خو دا کلی سم د مرګ په خوب ویده دی
ګنې مونږ وهلې هره دروازه ده
حادثو **تسنیمه**! څه لوبې ونه کړې
خو په خولې مو هم هغه د ژوند نغمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



عابد ندیم

## غزل

غزل چې نه راځي او ما په ځان زهیروي داسې
نو ښه پوهېږمه، چې ما ته هېروي داسې

نور به یې څنګه تېروي؟ خو مګر ما ته بې تا
ژوند لکه زهر چې له ستوني تېروي داسې

چې زلفې لاس کې لوبوي او وایي نه دې وژنم
نو څه له ما په بلاګانو وېروي داسې؟

لکه وجود کې سا ګرځي پرې انسان ژوندی وي
په محبت به مې مات زړه کوشېروي داسې

**ندیم** فلانۍ سینې ته جوخته کړه او ورو یې ووی
شېخه د ښکلو نه به لاس چاپېروي داسې



عثمان علي عثمان

## غزل

خبر کۀ ګریوان مې دی اشنا ستا د لاسونو لاندې
ژوندون مې تېر کړو ستا د ډېرو احسانونو لاندې

زما یقین دی د پښتون وطن مرغۍ وه دغه
دا چې یې وینه څڅېدله د سانګونو لاندې
زۀ په خپل وس سره د دې وطن اخبار نۀ ګورم
پکښې د غم قیصه وي لیک د تصویرونو لاندې
دلته کۀ روغ دی کۀ رنځور دی خو ویرېږي په ځان
سم لۀ ماښامه ږدي ټوپک د بالختونو لاندې
نن خپل منګی ورته لږ ږدم ورځمه جاج یې اخلم
څوک دی خوږه شپېلۍ وهي د چنارونو لاندې

***عثمانه*** ما له هم خدائي هغه ځاي کې کور راکړو چې
چرته وېنۀ چې به کېدل د چوکاټونو لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



عثمان علي عثمان

## غزل

داسې نه چې خپل وګړي پسې ژاړي
دلته هر سړی په مړي پسې ژاړي

چې د لاسو ښپو يې اووتو غلام شو
لېونے اوس په خپل پړي پسې ژاړي
زۀ او يار يو، او بس دغه زندګي ده
يو زړۀ ستړی بل زړۀ ستړي پسې ژاړي
بعضې خلق ډېر څۀ بائيلي خو موسکي وي
بعضې خلق په خسنړي پسې ژاړي
د قالين په مخ مې سر تندی خوږ نه شو
زړۀ مې هاغه شان سرګړي پسې ژاړي
چې د امن تېغی اوکي رازرغون شي
پښتانۀ په داسې ځړي پسې ژاړي

خپل **عثمان** يې چرته خپال خاطر کښې نه وي
خو چې ټال ته پړي تړي پسې ژاړي



انور الحق يرغل

## غزل

د جلۍ پلار دې راته لارو کې پېرې نه کوي
لور ته دې ووايې چې ماته اشارې نه کوي

په دې ملا پسې زه څکه اقتدا نه کوم
دا په وطن د شهيد شويو جنازې نه کوي
هغې ته ووايئ ! چې لاړې ! نو کيسه ختمه شوه
هغې ته وايئ ! چې هر ځای دې ګيلې نه کوي
مور مې خبره نه ده مور مې ده دادا ته لګيا
هلک ښه شوی ژړاګانې اوس د شپې نه کوي
خوب کې مې هم داسې وا نه ورېدل او نه شوم خوشال
چې پښتانه نور سړي شوي دي جګړې نه کوي

**يرغل** بد رنګه دی، ښاپسته دی، يرغل ټکی ټکی
جينکۍ پوهې کړئ ! په ما دې تبصرې نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهارګل امیرزی

## غزل

بل ته یې وایي، خپله خوله نه لري
زړه ته دې نه راځي چې زړه نه لري

اوس هم د درد سره رشتې پالي خو
سترګې مې پوچې دي اوبه نه لري
یار په څلور حسه ژوندی څنګه دی
چې د ژوندو پشان پینځه نه لري
زه پرې پوهیږمه ته هیڅ مه وایه
چې درد لري سترګي بانه نه لري
اوس په ما هسې زلزلې نه راځي
اوس د پخوا غوندې کاته نه لري

څه څه تا څه وویل، ته بیا ووایه !
ستا **امیرزی** در سره څه نه لري !؟



حیات الله ګهیځ

## غزل

ځیني ورک شي چې څو شپې وربانديي واوري
ځیني وي که زمانې وربانديي واوري

په دې لارو کې د پلونو عمر کم وي
چې تري ځې خاوري ایري وربانديي واوري

زمونږ چم کې د ځوانیو پسي ورکه
ته یې واخلې چې روژي وربانديي واوري

مونږه څو خو دومره لاره درنه غواړو
چې زمونږه قافلي وربانديي واوري

که جانان لاره بدله کړه **ګهیځه**
بنه شوه پړه به د جرګي وربانديي واوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله زهیر

## غزل

دي ښار کي د ګلونو ننداړتون شته او کنه نه
سبق پکي ويل کيږي پوهنتون شته او که نه

زما د پښتونخواه د هر وګړي نه پوښتنه
زمونږ په روايو کي څه بدلون شته او که نه
نړۍ په مقدسه مطالعه کي مو څه لوستي
نامه پکي زما د دي پښتون شته او که نه
زما خو د کندوز هغه ماشوم هيڅ نه هيريږي
واکداره ستا په لاس کي څه قانون شته او که نه
د ميني بادشاهت ښه دي که نه نه ملنګي
ممتازه چه په مينه کي جنون شته او که نه

**زهيره** د غزلو د ليکلو چل خو ذده کړه
خو ګورم چه قلم کي دي څه يون شته او که نه



عابد ندیم

## غزل

په ګل بدن دي ادمخوري جامې نه اغوندي
هغې ته ووايئ ! چې توري جامې نه اغوندي

څوک دې په زړه کې د وطن د وراني خيارل نه ساتي
څوک دې ضمير ته دا کمزوري جامې نه اغوندي
که يې وژلمه نو ما دې هم په مينه مړ کړي
زما وژلو ته دې نوري جامې نه اغوندي
زما په لور دې ځنګېدلي سترګې نه راړوي
زما غزل ته دې نسکوري جامې نه اغوندي
د ملاقات په لمحه ځکه وارخطا يمه چې
په خپل واده کې څوک غمخوري جامې نه اغوندې

که مې دا زړه د خپل ښايست په اور ستي نه غواړي
**نديمه** بيا دې په زړه پوري جامې نه اغوندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شېر رحمان بېتاب

## غزل

تیاره مزل، ورک مې منزل، بل مې ښېرې لپه کې
ما خو اوس هم تاته نیولې وې، ډېوې لپه کې

سکون، باور، اخلاص، پښتو او د ښکلا تصور
څه په هنر مې راټول کړي، دې ورې لپه کې

زه یو وخت دومره په اوچته مرتبه کې ومه
ما به لیدلې ښارېې او هدیرې لپه کې

افسوس اوس هم یې دعاګانو ته اکثر پورته کړې
د انسانانو وینې تا وڅښلې دې لپه کې

هیڅ نه پوهېږم چې دعاوې ولې نه قبلېږي
ګنې ما وکړلې رنګ، رنګه تجربې لپه کې



اتل افغان

## غزل

زما خاموشه زندګي به دومره شور پېدا کړي
بهر به واورې وي خو زړونو کې به اور پېدا کړي

د سرمايې ټېکه دارانو په زړه نه ځايږي
غريب سړی چې په ټول عمر کې يو کور پېدا کړي

خلک د جوش او بدمستۍ په ګډاګانو سر کړي
انګور چې هر څومره کمزوري شي نو زور پېدا کړي

زما نظر به د تمام جهان منظر او وينې
زما د سترګو سپين چې ستا د سترګو تور پېدا کړي

د دوی ژاړه فریاد به څوک واوري ***اتله*** افغانه
زمونږ د چم خوران به چرته کې غمخور پېدا کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه نواز باقر

## غزل

نه د چا په تصویرونو ، نه د چا په تنهایي شو
د زړه هر یوه دیوال مې درده تور ستا په لوګي شو

چې وړه وم مور مې مړه شوه ، چې شوم پیغله پلار مې مړ شو
را واده چې شومه خدایه نو خاوند مې شرابي شو
په مړوند به دې لا ځرنګه دمه د سړي وځي
د ژړا نه ډک ماشوم چې غلی ستا په یو بنکړي شو
بیا مې تولـه ورځ په دې خبره ځان لا زړه خوړلی
خدای دې خیر کړي ملا راغی او زمونږه ګاونډي شو
چې له کوره یې بهر هم یو قدم اخیستی نه و
ژونده ! تا دومره مجبور کړ چې له خپل ځان نه باغي شو

هر سړي ترینه د خپلې خوښې تار وشکولو
ستا غزل ***باقره!*** څه؟؟ شو خو ګریوان د لیوني شو



سید جیلاني جلان

## غزل

ور دې د زړه کړلو دربند د ننه کیناستلې
اوس تیروه یوازې ژوند د ننه کیناستلې

ته دې پخپل ښایست پریمانه خوشالي وکوه
زه به له درده اخلم خوند دننه کیناستلې

زما او ستا د یو کیدو امکان بس داسې ګڼه
لکه د اور او بو پیوند دننه کیناستلې

اوس مې وجود د ژرندې پل د غم په لواړو دانو
دا دی درګرده وهي شخوند دننه کیناستلې

د اور کړیو کې ***جلان*** بند په بند داسې بند شو
لکه بنګړیو کې مړوند دننه کیناستلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمود خزان

## غزل

پرېږدئ دا خلک چې تصمیم د زندګۍ ونیسي
بڼ کې ګلان وکړي بو ټي شي غوټۍ ونیسي

هغه خو ټول عمر سخا د روښنا يي ورکوي
دې کې کوم راز دی پوره وړي چې سپوږمۍ ونیسي
دلته دهر چا لاس رسېږي د مظلوم غاړې ته
څوک پیدا نشو چې ظالم هم له مرۍ ونیسي
دوی چې لمن وهي د جنګ اور ته څه لېرې نده
یو وخت به راشي چې دا اور ټوله نړۍ ونیسي
یو دوه خو، ندي انتها ته رسېدلی ظلم
څوک به ژر چېرته لاړ شي چاته به څولۍ ونیسي
د تګ په وخت کې اجازه له مانه مه اخله
خلک به پوه شي چې ته ځې او ما سلګۍ ونیسي

بادشاهي نه غواړم **خزانه** یم خوشاله په دې
چې خپل حریم کې مې هغه په ملنګۍ ونیسي



خالد افغان

## غزل

په سمندر کې د سکروټو اوازونه مات کي
دخدای قدرت وګوره سترګو باندې زړونه مات کي

زه ځنځیرونه ماتوم خو تقدیر داسې ده چې
په مخ سپېږه راکي بند کې مې لاسونه مات کي
ای! قدم ونیسه غرور نه حسن ډېر هوښیار دی
د چامرشد به ائنه کې تصویرونه مات کي
ربابه! غلی شه زما دوير کیسه مه کوه
نغمه به ګونګه شي، او خدای به دې تارونه مات کي
په مونږ جامې باسي توبه د لنګ له زوره توبه
خوپښتانه يې د راشن په وړو سرونه مات کي
ولې شاعر به څه د دې تاون جبران نه غواړي
چې د سپرلي سخا دې سنو کې ګلونه مات کي

دمېکدې په جرس ټول د شوم بچي را ټول دي
خو یو **خالد** دی چې ځان مات کي نو جامونه مات کي

عصمت الله صالح

## غزل

څو پټ رازونه بهانې ځان سره څنګه يوړل؟
خپ تصويرونه آينې ځان سره څنګه يوړل؟

د آس ګردونه فاصلې ځان سره څنګه يوړل؟
دغه آسونه قافلې ځان سره څنګه يوړل؟

بس اندېښنو مې زړه خوړلی دې ته فکر کوم
د وخت کارونه زمانې ځان سره څنکه يوړل؟

دا خو ثابت په خپل مکان و ، هېڅ تغير يې نه کړ
جوړ دېوالونه زلزلې ځان سره څنګه يوړل؟

**صالح** د فکر په چاپېره دايره کې ګېر يم
نن څو سرونه ترانې ځان سره څنګه يوړل؟



سعيد سعيد

## غزل

ما يې د حسن د لمبو په سوري خوب کړی دی
ملګرو ما ورپسې ځکه ليونتوب کړی دی

د ښار مينو شکر اوباسئ په هرڅه شته يئ
موږه د لږو تندو غېږ کې مينتوب کړی دی

ما له هغې ځنګلې نيسې له کوڅې مې شړې
ياد کړه په کومه چې تا ډېره موده خوب کړی دی

بغير له کوره او ګوره بل څه يې ليدلي ندي
زموږ د کلي جونو داسې پېغلتوب کړی دی

ستا د ښايست عمر به کم نه وو خو څه وکړمه
قدرت د ګل د ژوند په ورکړه کې شومتوب کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



*احسان الله درمل*

# غزل

مرګ که زمونږ کار د ژوند تمام کړی نور به څه وکړی
هسی به په مړو ځان بدنام کړی نور به څه وکړی

خاوری می ساقی ته د پښتون خمار غورور مه شه
مړه خو نسکور به راته جام کړی نور به څه وکړی

غله د هوس هم د خپل ښایست له ښاره مه شړه
رادی شی خپل زړونه به لیلام کړی نور به څه وکړی

څومره چی یاران خاوری زما په نامه اړوی
دومره به د خلکو راته پام کړی نور به څه وکړی

ښکلی که هر څو ظلم پر ما کوی پر ما یی څه
کم به د خپل حسن یو غلام کړی نور به څه وکړی



*منګل ښېوه وال*

# غزل

د وختونو ژرنده ګرځي زماني په کې دل کېږي
عجیبه غوندې څېرې دي چې ښیښې په کې دل کېږي

دا وحشت دی، که قیامت دی هیڅ په پته يې پوه نه شوم
چې منزل ته نه رسېږي قافلې په کې دل کېږي
د مرګونو پرښتې هم کله کله ننوځي
دغه ډک دی له تسکینه حادثې په کې دل کېږي
دې ښار ته د نفرت په نظر ګورمه اوس ځکه
زما له وینو جوړې دا نغمې په کې دل کېږي
زمونږه له ژوندون نه هډېرې جوړول غواړي
دا څنګه ارتقا ده ښارېې په کې دل کېږي

چې تیارې وي نو **منګله** د لمر څېره پناه کېږي
چې رڼا وي نو بیا ګوره تورې شپې په کې دل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



*اباسين يوسفزی*

## غزل

د اوښکو ليکه چې د چا په اننګي لاړه شي
لکه تېره توره مې نېغه په زړګي لاړه شي

هغه لمحه زه د خپل عمر حصه نۀ ګڼمه
کومه لمحه چې ستا له ياردو نه خالي لاړه شي

بې مينې ژوند راته څه داسې بې نمکه ښکاري
لکه دکلي د ملک نه چې خاني لاړه شي

نفرت زما دکلي خلک په سينو کې ساتي
د محبت خبره څنګه تر زړګي لاړه شي؟

زه چې زړېږم څومره، مينه مې ځوانېږي
حسن به ځان ووژني، تا نه چې ځواني لاړه شي



*مقتصد ستړی*

## غزل

سترګي وهې ددې سترګکو پوروړی دې يم
حساب دې نيسه د مچکو پوروړی دې يم

نری وړې ګوتې دې بيا شمېرمه بيا درځمه
د اکو بکو سر سيندکو پوروړی دې يم

په خوږه ژبه دې ډېر تېر ايستل دنقل بوډۍ
لا هم د ډېرو، ډېرو سپکو پوروړی دې يم

بايللي تللي او ګټلي زمونږ دواړو ګډه دې
تيار د يار دې خو د ورکو پوروړی دې يم

**ستړی** له کومه کور ته راغلې پښې لوخي لاړې
زمونږ جومات کې د څپلکو پوروړی دې يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاه نواز باقر

## غزل

چرته چې تنګ و مه هم هغلته مې ساه واخسته
په ځان کې پټ شو مه په ځان کې مې پنا واخسته

غوخ شوی لاس یې راته بیا په لوپټې وتړه
شکر له درد نه مې مزه یو ځلې بیا واخسته

ددې وطن خلک ډېر زر د زړه په رنځ اخته شي
زه لا ماشوم یمه خو ځان ته مې امسا واخسته

ستا تصویرونه مې ترې لرې کړل او چیغې یې کړې
له دېوالونو نه مې هم خپله سزا واخسته

**باقره!** اوس به د منزل اخري حد ته رسوو
تا په لاسونو کې ډیوه او ما رڼا واخسته



طایر ځلاند

## دوه بیته

مهمه نه ده ما او تا ته د هر څه پېژندل
محبت څه وي؟ محبت خو وي د زړه پېژندل
ما ځینو خلکو ته بې ځایه زړه کې ځای ورکړلو
ما ځینې خلک په پوره مانا ونه پېژندل

***

ډاکتر عطاء الرحمن ساپی

## دوه بیته

سپرلیه راچپه کړه د رنګونو ډک جامونه
کوي د سرو لمبو ځنې جامې زمونږ ګلونه
یو وخت به دا قطره قطره شیندلی زړه راټول شي
که چپ نه شي مکتب کې زنګ ممبر کې اذانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



/اجمل/اند

## منلګ بابا

ستړی یم، تږی یم، ملنګ بابا
راکړه یو ډکه پیاله بنګ بابا

دې دوو غړونو پسې ډېر خپه یم
د منګې تنګ، د سپتار شرنګ بابا

لکه له مات لښکر نه پاتې سپاهي
نور مې بایللی ژوند ته جنګ بابا

اوس مې د دې ښار خلک وپېژندل
اوس له هر چا نه کوم څنګ بابا

زما په نوم هم یو جنډه وتړه
غواړمه نور شم، ستا په رنګ بابا

نور له روښانه څراغونو ستړی
رامې کړه بیا بېل او ګلنګ بابا



/اجمل/اند

## غزل

حالات ښه نه دي، حالات لا له ژوند رنګ غواړي
لا غنمرنګ غواړي او لا د تورو شرنګ غواړي

هغوی ډېر کم دي، چې جونګړې جوړوي او درومي
هغوی ډېر زیات دي، چې ودان ښارونه ړنګ غواړي

خپلې بربنډې میخانې پرې په امان کې ساتي
سمندر پورې خلک زموږه غرو کې جنګ غواړي

د ښار ښایسته دې نورې غټې سترګې نه توروي
زورور شته له تورو سترګو نه ګلنګ غواړي

**انـد** لېونی دی، اند اوس هسې په خبره نه دی
پردی وطن پردی، کوڅې دي او دا بنګ غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب شاه صابر

## غزل

رنګ د میکدې په بله واړوه
وخانده ! کاسې په بله واړوه

ګوَرې ګوَرې زلفې لرې څنډ وهه
غرونه غرونه شپې په بله واړوله
راشه د رنګونو سپرلي راوله
داسې دا کوڅې په بله واړوه
مات زړونه په مست نظر کې وپېره
ورانې ادیرې په بله واړوه
عشقه ! دا زړه دنیا بدله کړه
بیا مې ارادې په بله واړوه

پرېږده چې رڼې شي د رڼا قیصې
راشه تماشې په بله واړوه



ساجد بهار

## درې بیته

بیا مینتوب ته مې اوږده موده ارام پکار دی
نجونې نازکې دي، دې ډلې سره پام پکار دی
خوند کا د شلو رقیبانو منځ کې ژوند تېرول
پرېږده لګیا دې وي د هر چا احترام پکار دی
دې لیوني او بې ترتیب ژوند ته مې ته پکار یې
او د رګونو مستیدا ته مې ماښام پکار دی

***

صابر

## دوه بیته

مونږه د یو جنګه خبر نه شوو ، چې چا وګاټه
مونږه د هره جنګه راوړل د دنیا شهیدان
مونږ د دې دور د فرات پر غاړه مړه له تندې
مونږ د دې دور د تاریخ د کربلا شهیدان

شېر حسن کمالزی

## غزل

اوس چې څوک شعرونه حماسي وايي
هسې د مړې خيټې پارسي وايي

ته چې د چارواکو صفتونه کړې
خوار شې، خو همدې ته چاپلوسي وايي
دلته که تکړه وې، نو دروغ وايه
بيا به درته هر سړی سياسي وايي
دې وخت کې هماغه سړی مخکې وي
بس، چې يو څو ټکي انګايسي وايي
يو خائين دې هم کله راکش نکړ
مشره، بيا نو څه ته بې وسي وايي

تاته، خو به ځان په فساد ښه ښکاري
خلک دې ته غټه دووسي وايي



دوست محمد عارف

## غزل

همېشه وړاندې وهي ګام، شاعرانه غونډې دی
کوي يې هر يو کار دوام ، شاعرانه غونډې دی

له مانه مه پوښته: "له کله شاعري کوې ته "
د پښتنو ژوند خو تمام شاعرانه غونډې دی
پوهېږم ما مجبوروي د خپل ارمان په خاطر
پوهېږم ما باندې الزام شاعرانه غونډې دی
چاپېر ګلونه دي، په منځ کې يې کوترې ګرځي
زموږ په کلي کې يو بام شاعرانه غونډې دی
ملګرو دلته يو انسان مې په زړه خوږ لګيږي
زه ترېنه اخلمه الهام، شاعرانه غونډې دی

هغه که يو ځلې خپه شو نو پخلا به نه شي
کوه **عارف** سره لږ پام، شاعرانه غونډې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سعید شینواری

## غزل

زیـارت یـې کړمـه، نجـونې رارو انـې دي، قاضـي !
پـه دار مې کـړه، زمـا معـاملې ورانـې دي، قاضـي !

لـه عقـل لـه رواج نـه عـاري هیلـې، نـه رشـتیا ! !
توبـه ! څـومره؟ کـافرې مـې یـارانې دي، قاضـي !؟

تعمیـل د حکـم سـمه ده کـوم، کلـی پرېـدم ، خـو
دا څـه راپسـې شـاته؟ ژړاګـانې دي، قاضـي !؟

د درد جونې لـه چانـه سـتروې؟ د ویـر پـه ښـار کې
او بلـه دا چـې دا خـو ماشـومانې دي، قاضـي ! !

چې زه دې کړم په کوم کتـاب؟ د خپـل **سعید** پـه نوم
همزولـې مـې ببخـي درتـه، حیرانـې دي قاضـي ! !



اسیر منګل

## غزل

د سـترګو رپ کښـې سـړی بـوځي د وختونـو شـاته
خـدا ېزده چـې څـه وي ددې ځنـې تصـویرونو شـاته

وهـه وهـه چـې زمـا نـه منـې او خپلـه کـوې
بـې لـه داغلولـو نـور څـه نشـته د خـالونو شـاته

چې سـتا د مـخ کتـاب لوسـتلو تـه وزګـار نـه شـومه
خـدای دې مـا مـړ کـړي ددې ډېـرو کتـابونو شـاته

زه پـه سـاقي دومـره مئـین یمـه نـا نـه شـم کـوی
ګنـې ښـه پـوی یمـه چـې څـه دي د جـامونو شـاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تهٔ سپينې واورې ګورې شنهٔ شنهٔ ځنګلونه ګورې
تهٔ دې ته نهٔ ګورې چې څهٔ کېږي د غرونو شاته

تا چې اور ورته کړو ايرو کښې به ئې څوک لټوي
زما د مينې دنيا وه د چنارونو شاته

رنګ ئې سپين مخ را ياد وي بوئ ئې وږمې د زلفو
پوئ نه يم ښکلي څنګه پټ وي د ګلونو شاته

نه شين خالې شته نه چينه، نه ئې منګي نه چنار
تشې کيسې اوس پاتې دي د کودرونو شاته

قيامت ئې هير کړو رانه خدايه د قيامت نه مخکښې
قيامت چې وليدلو ما د وحشتونو شاته

زه به څلور ځايه ټوټې نه وی په خپل کاله کښې
که ديوال نه وی پوهيدی د ديوالونو شاته

منګل کهٔ لوړ نه دی پهٔ ونه ټيټ ئې هم مه ګڼه
د شاعرانو قد ليدی شي د لفظونو شاته



م.شهيم

## غزل

ستا د ياد په سره مجمر باندې ولاړ يم
څريکه څريکه په پرهر باندې ولاړ يم

واه دا څومره په هنر باندې ولاړ يې
ستا د سترګو په نظر باندې ولاړ يم
بس د چا د ځوانيمرګي مينې ياد يم
سور شفق يم مازيګر باندې ولاړ يم
څه په عجز مې څنګل ده ماته کړې
څه له کبره په څادر باندې ولاړ يم
غره مه شې نه يم ستا د غزل توري
تور لونګ يم په ټټر باندې ولاړ يم

زه نو دومره بختور چېرې **شهيمه**؟
چې د چا د زړه په سر باندې ولاړ يم

اکرام الله وقار

## غزل

بلا موده ووشه له مونږه په ښنګ ځي مرور
بلا موده وشوه، له مونږه دي پسرلي مرور

ما خو ګومان کاوه، چې يې به سر سري مرور
اخ ! شم قربان درنه، نو ته خو يې بېخي مرور

چې خفه نه شې لېونی جانان دی خيال يې ساته
نه پخلا کېږي، چې يو ځل شي لېوني مرور

بس ښه به دا وي، چې په خپله شو پخلا خپلو کې
ګنې دا خلک ګوره نه پخلا کوي مرور

نه له هغې مرور نه له زمانې مرور
زه له خپل بخته مرور له خپل تندي مرور

دا ستا لپاره شو اکرام له هر سړي نه قربان
دا ستا لپاره شو اکرام له هر سړي مرور



اکرام الله وقار

## دوه بيته

ته له خپل سر نه لوپټه په زيارت مه غوړوه
مه مې زيارت نه غواړه مه له باباګانو غواړه

په لوپټې باندې سر پټ کړه ، کړه لاسونه لپه
له پاکه ربه مې په خپلو دعاګانو غواړه

***

ډاکټر عطاء الرحمن ساپی

## دوه بيته

زما او ستا ترمنځه واټن ږدي دا زمانه
په څومره سپين سترګی مو بېلوي دا زمانه

د وخت د فن کارانو غرور هيڅکله مات مه شه
هم دوی دي چې په مونږه لوروي دا زمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



رضوان الله اوبرنګ

## غزل

نه د چا یاد مړ کړم او نه په ژړېدو مرمه
زهر په څو دي دوکانداره زه په څو مرمه

څه خوشبويي ستا د انکار له ليکه راشي واه !
هم مې ژوندی ساتي او هم په کاغذو مرمه

کېنه، چې دا شېبه به هم راته بې خونده شي
تا ته به ګورمه قاتلې ! چې ترڅو مرمه

درد ، بې کسي او بې وسي له حده واوښته
دا څو ماښامه تش ګيلاس ته په کتو مرمه

ژاړو او خاندو هم له تېرو کيسو خوند اخلو
څه په مزه مزه او څومره په نخرو مرمه



فيصل فاران

## غزل

را پرېوتي يو د پوال د تلوسو
د زړګي په کور مې شور د وسوسو

خرڅېدې درنې پګړۍ او سپين پړونې
د ناموس هر يو نشان مو په پيسو

آخر زه هم شوم مصروفه په دنيا کې
د نيمګړي محبت غم به ترڅو

د شلېدلي ګرېوان سوال يې ماته پرېښو
د هغې سره هنر د دلاسوو

د جنګ مينځ کې به روان و مه ***فارانه***
زلميتوب و، که باران د پتاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



*محراب ګل مخلص*

## غزل

راوستې ما تر خپل وجوده اندېښنه ده پيره
اوس په رېګونو کرښې باسمه او شپه ده پيره

اوس مې ته مه پوښته ګلابه اوس په ځان نه يمه
اوس رانه هېره د ژوندون هره کيسه ده پيره

فالي نو ولې شو حيران زما د لاس کرښو ته
چې زه به څوک يم او دا کومه زمانه پيره

د څو زرينو کرښو وړاندې مې شي عقل تمام
د څو رنګينو پاڼو لويه فلسفه ده پيره

چې درته څرنګه مانا کړم د **محراب** څو توري
دا مې جذبه دا دبدبه دا مې اسره ده پيره



*عبدالهادي اثر*

## غزل

دايره ده د وجود رانه چاپېره
زندګي ده لکه دود رانه چاپېره

مصوره څومره ښکلې يم ولاړه
يو تصوير کړه د جمود رانه چاپېره

مورې، مورې خوب کې وينم جنتي يم
ملايکې د درود رانه چاپېره

بيا سکون دی، بيا عجبه خاموشي ده
خاموشي ده د سرود رانه چاپېره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیر محمد کاروان

## غزل

تلوسه مې یو په دوه شوه تاته راغلم
مړه د صبر مې ډیوه شوه تاته راغلم

تتبدل مې زده د اوښکو ستورو نه و
شپه د کال غونډې اوږده شوه تاته راغلم

په قدم قدم غماز راته مُغل و
زما مینه پښتنه شوه تاته راغلم

د زړګي په خم کې څاڅکی پاتې نه شو
هره اوښکه مې پیاله شوه تاته راغلم

ما ساتله پټه مینه پټه نه شوه
د خوشبو غونډې خوره شوه تاته راغلم

ستا په لاره کې مرګی راته په ګوانښ و
خو جذبه مې بدرګه شوه تاته راغلم

د هجران غشي یې نور زغملی نه شول
زاره چاودې مې نغمه شوه تاته راغلم

یو **کاروان** د ارمانو مې راوړی
که منظوره مې جرګه شوه تاته راغلم



سعدالله فطرت

## غزل

په زړه کې مې لوی غر د حوصلې و، خو اوس نه دی
له تا سره مې تار د یارانې و، خو اوس نه دی

یو ځل په ماشومتوب کې و یو زړه رانه مات شوی
ازار یې تر ځوانۍ په ما پسې و، خو اوس نه دی
هو! ګرانه پرې بې حد او اندازې ومه اوس نه یم
هو! ګران راته بې حد او اندازې و، خو اوس نه دی
ته خویندو کې وې ښکلې او زه ورونو کې حسین وم
اوف، څه وخت و څه نوم مو د جوړې و، خو اوس نه دی
د مور د قبر سرته و ولاړ ماشوم ویل یې
رڼا زمونږه کور په دې ډیوې و، خو اوس نه دی
منم مونږ دوه وجوده و، خو ساه راکې یوه وه
یو څوک مې زړه ته دومره ډېر نږدې و، خو اوس نه دی
نن ته هم پرې بې پامه بې سلامه شولې تېره
همدا زړه مې پاچا د زمانې و، خو اوس نه دی

**فطرت** مې یو وخت ځمکه و، یارن به ګرځېدل پرې
**فطرت** مې یو وخت دومره د فایدې و، خو اوس نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



محراب ګل مخلص

## غزل

نوري به نه راولم ځکه اندېښنې زړه ته
چې زه لوېدلی يمه وخته د هغې زړه ته

داسې ولاړه يې زما لحظې لحظې زړه ته
لکه يوسف چې و ولاړ د زلېخې زړه ته
پوهېږم اوس مې هم په مينه يادوې زړه ته
پوهېږم اوس مې هم کوې بلا کيسې زړه ته
په سرو سکروټو خو مزل دومره اسانه نه وي
چې ته په کوم هُنر زما راکېوتې زړه ته
حالات چې داسې نن د کرکې سره اورونه شيندي
نو زه به خود ورلګومه دروازې زړه ته
يمه حيران چې تا له کومې تجربې کار واخېست
يمه حيران چې څنګه راغلې زمانې زړه ته

**محرابه** اوس به نو د چا دروازه وټکوم
چې راسره يوسئ د هيلو جنازې زړه ته



نادر دانش

## غزل

ما سترګو کې وساته لېمه رانه چاپېره که
اوښکه يم پرېوځمه بانه رانه چاپېره که

زه خو به د تلو په وخت سر ستا تر اوږې در وړمه
نور دې نو بيا غبرګ لاسونه ته رانه چاپېره که
توري توري زلفې دې په توره شپه کانې کوي
څه خورې ورې که په ما څه رانه چاپېره که
زه به دې په تورو د غزلو کې رانغاړمه
ته دې د خوږې مينې خواږه رانه چاپېره که

سترې له روزګار يمه **دانش** درنه دمه غواړم
لېچې د سهار تر لمر خاته رانه چاپېره که

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسیر مشوانی

## غزل

د ګل غوندې ټاټوبی چې مې وران دی، زړه مې وران دی
د هر سړي په مخ باندې خپګان دی، زړه مې وران دی

وطـن لپـاره تیـره هـم پـه بلـه بانـدې نـه ړدو
خو جنګ راته د هر څه نه اسان دی، زړه مې وران دی

کـه مـا نـه څـوک د خپلـو تقاضـو پوښـتنه وکـړي
نـو زه بـه وایـم سـوله مـې ارمـان دی، زړه مـې وران دی

د دومـره سـوال زاریـو بـاوجود هـم راوینښ نـه شـو
توبـه توبـه، دا څـه قسـم وجـدان دی؟ زړه مـې وران دی

بـاور وکــړه ! پـه مینـه کـې تـرې ژوو میـدان وړی
باور وکړه ! پـه نوم باندې انسـان دی، زړه مـې وران دی

مجبـوره یـو **اسـیره!** چـې نازونـه ورلـه یوسـو
نـو څـه وکـړو د ښـکلو چـې دوران دی، زړه مـې وران دی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**